هفته نامه

# دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړی کال ،(۳۰)گڼه یکشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دحمل (۱۱)


## عراق مكلف گرديد تاتمام سلاح كيمياوي وبيولوژيكي خود رانابود سازد

پنج عضو دايمي شوراي امنيت ملل متحد روي قطعنامه به موافقه رسيدند كه شرايط اتش بس رسمي جنگ رامشخص مي سازد .
دريك خبر راديو بي ، بي ،سي گفته شده است كه نماينده گان امريكا ، روسيه ، فرانسه ، انگلستان وچين درمورد موادات قطعنامه به موافقه رسيدند ، اين قطعنامه كه توسط امريكا ارائه گرديده عراق رامكلف مي سازد تاتمام سلاح بيولوژيكي وكيمياوي رانابود نمايد .
درقعطنامه ازصدام حسين رئيس جمهور عراق تقاضا شده است درمدت نود روز تمام سلاح كيمياوي خود را ازميان ببرد .
عراق قبلا طرح امريكا راظالمانه خوانده بود .

## مجاهدين ميدان هوايي كابل رابه راكت بستند


صفحه ٤


## قوماندان عبدالخالق دبي ، بي ،سي دراديو له خبريال سره په مركه كي :

# دجنوب لويديزې حوزې په سلو كي ۸۰ قوماندانان دقوماندانانو دسرتاسري شورا څخه ملاتړ كوي او ورسره يوځاي شوي دي

## دغور په ولايت كي مجاهدينو دكابل دكمونست رژيم (۱٦) تنه عسكر او مليشه وژلي دي .

غور ، ميديا :
دغور له ولايت نه ديوى راديويى پيغام په حواله ويل شوى چي مجاهدينو دمارچ په (۱۷) نيټه دكابل رژيم پر يوى تعرضى قوى باندى د(شهرك ) په ولسوالى كي چي دمجاهدينو پر مركزونو يي كړى وه سخته جګړه وكړه . چي دهغى په نتيجه كي دملحد رژيم (۱۲) تنه عسكر او مليشه مړه او يوزيات شمير نور يي ټپيان شويدي .
دخبر ځاى درپوټ له مخى پدې جګړه كي دمجاهدينو څخه هم لس تنه شهيدان شويدي .
او هم پدي نيټه مجاهدينو په نوموړى ولايت كي د(تيوره ) په ولسوالى كي درژيم پرپوځى قرارګاه باندى بريد وكړ ، چي دهغى په اثر دملحد رژيم څلور عسكر مړه يو شمير ټپيان او هم دښمن ته درانده مالى تاوانونه ورپه برخه شويدي .

## دمصر اوليبيا ترمنځ دتګ راتګ بنديز له منځه ولاړ

طرابلس :
دليبيا مشر معمر القذافي دپنجشنبي په ورځ دمصر دپولي سره نږدي دروازه ويجاړه كړه .
دليبيا راډيو خبروركړ چي قذافي داهــم وويــل اوس بــه دواړو هيوادونو ترمنځ كومه پوله نه وي داكار دليبيا دآزادي څخه ۲۱ كاله وروسته سرته ورسيد .
دراډيو له خولي نوموړي پوسته برتانيي ۲۰ كاله پخوا دواړو هيوادونو ترمنځ جوړه كړي وه .

# مجاهدينو په خوست كى ددښمن دوه الوتكى راوغورځولى


OPEN ... ACKU


## دنوي هوايي ډګر شاوخوا څلور پوستي فتحه شوي

### عمليات دوام لري

دالحاج مولوي جلال الدين حقاني له جبهاتو څخه دقوماندانانوشورا ته په مخابره شوي رپوټ كي ويل شوي چي مجاهدينو په ۱۳۷۰/۱/۹ نيټه ددښمن يوه هليكوپټر چي دمجاهدينو پر سنګرونو يي بمباري كوله ، دستهنګر توغندي په وسيله هوايي ډګرته نږدي راوغورځاوه .
همدارنګه مجاهدينو په نوموړي نيټه ددښمن يوه باروړونكي څلور ماشينه الوتكه هم راغورځولي ده
ديو بل خبر له مخي مجاهدينو په متحده توګه تيره ورځ پرنوي هوايي ډګر او٦ نمبر توپچي باندي عمليات وكړل ، چي دهغي په نتيجه مجاهدينو دنوي هــوايي ډګر ترڅنګ ددښمن څلور پوستي فتحه كړي .
خبر زياتوي چي دمجاهدينو په دغه حمله كي ددښمن يو ټانك ، يو عسكري جيپ موټر او دوه لوي پوځي موټرونه تخريب شوي دي .
خبروايي چي دهوايي ډګر شاوخوا سيمي اوس دمجاهدينو په كنترول كي دي ددښمن پرپوستو اوپوځي مركزونو له څلورو خواو دمجاهدينو عمليات دوام لري

## په مسكو كې په لكونو خلكو دګورباچوف په خلاف مظاهره وكړه

مسكو دوري ۹ :
دروسي فدراسيون دايالت دجمهور رئيس ملګرودګورباچوف ددغه حكم په مقابل كي چي په مظاهره دي بنديز ولګيري ، يوه غټه احتجاجي مظاهره وكړه مظاهره ، كوونكو دګورباچوف په مخالفت اود(بورس يلتسين ) څوك چي دګورباچوف دټولو زيات مخالف اودروسي فدراسيون دايالت جمهور رئيس دي په ملګرتيا كي چغي وهلي .
دبي ، بي ،سي له خولي ددغه مظاهري دمخنيوي لپاره ۵۰ زره عسكر اوپوځيان ځاي پرځاي شوي و خو په مظاهره كي يي مداخلت ونكړ دجرمني غږ راديو له خولي دروسيي پارلمان تيره ورځ پخپله غونډه كي دګورباچوف دغه پريكړه چي په مظاهرو دي بنديز ولګول شي ، ونه مانه كتونكي عقيده څرګندوي چي ددي پريكړي نه منل دبورس يلتسين ستره كاميابي ده دسي ، بي ، ان دخبر سره سم دروس په تاريخ كي دايوه ستره مظاهره وه څكه چي دروسي دايالت څخه برته بالتبكي ايالتونو وګړو هم پكي برخه اخيستي وه ، دوي دخپلواكي په ملګرتيا اودروس داقتصادي سيستم په مخالفت كي ورسره ځني نور شعارونه وركوي

## اسرائيلو په عربو باندې بيت المقدس ته په ننوتو بنديز لګولی

بيت المقدس :
اسرائيلي واكمنو دجمعي دورځي نه تريكشنبي پوري دنيول شويو سيمو په عربو باندي بيت المقدس ته په ننوتو بنديزلګولي دي .
ددغي كار مقصد اسرائيلو ته دمذهبي ورځي دمانځلو لار برابرول دي .
ترڅو دفلسطين مجاهدينو دورانكاري څخه ځان وساتي .
خبر زياتوي چي دجمعي په ورځ اسرائيلي پوځونو دري بي ګناه فلسطينيان هم په شهادت ورسول.

## دروسيى يوه مسافروړونكى الوتكه تباه شوه

مسكو -دحمل (٤)
دروسيى دهوايى كرښو يوه مسافر وړونكى جيټ الوتكه دمينځنى آسيا د ازبكستان جمهوريت په هوايى ډګر كي وغورځيده او له سورليو څخه يې (۳۱) كسه مړه شول.
رارسيدلى خبرونه وايى چي دغه« انتونوف ۲٤ »دوله جيټ الوتكه دازبكستان دپايتخت تاشكند په هوايى ډګر كي راكوزه شوه خود «رن وى» له خط څخه وړاندى واوښته او ديوه پاخه عمارت سره دتصادم له كبله له مينځه لاړه . پدي الوتكه كي ټول (٥٦) كسه موجود ؤ چي له هغى نه (۲۸) مسافر او (۳)كسه دالوتكى عمله مړه شوى دي .

## زرګونو خلكو په راجيو ګاندي بريد وكړ

نوي ډيلي :
له ډيلي څخه نړيوالو اژانسونو رپوټ وركړيدي چي په زرګونو خلكو دحمل په ۹ نيټه په راجيو ګاندي باندي بريد وكړ په نتيجه كي دده موټر بيخي له منځه ولاړ اودي پخپله له حملي څخه بچ شو په نوموړي باندي دغه بريد د( ماذهي پور) په سيمه كي هغه وخت وشو كوم وخت چي دي دانتخابي مبارزي لپاره وتلي و ، خو هندي حكومت پدي باره كي هيڅ نه دي ويلي .

## دكشمير مجاهدينو دهند دوه پوځي پوستي تباه كړې

مظفر آباد :
دكشمير مجاهدينو يو خبر ځاي رپوټ وركړي دي چي په نيول شوي كشمير كي دمجاهدينو اوهندي پوځيانو ترمنځ په سختو نښتو كي ۳۲ هندي پوځيان وژل شويدي.
خبر ځاي زياتوي چي مجاهدينو دلاسي بمونو په واسطه دهند دوه پوځي پوستي تباه كړي اوډيره زياته وسله يي ترلاسه كړيده په دي نښتو كي دوه مجاهدين هم په شهادت رسيدلي دي .

## مجاهدينو ددښمن يوه جنګي الوتكه راوغورځوله

كابل دحمل ۱۰ نيټه :
دقوماندانانو شورا نظامي دفتر په يوه مخابره شوي رپوټ كي ويل شوي دي چي مجاهدينو په ۱۳۷۰/۱/۹ نيټه ددسمن يوه جنګي الوتكه دچهلستون په سيمه كي رانسكوره كري ده .

### سرمقاله

## دمجاهدينو بريالى عمليات او د مزدور رژيم مذبوحانه هلى ځلى

دهغه وخت راهيسى چي دخوست اودهيراد په نورو سيمو كي دكابل لاس كينولى رژيم پرضد دكفر ځپونكو مجاهدينو له خوا تربوى قوماندى لاندې په ګډه سره عمليات پيل شوى ، نجيب اودهغه دله ټپله اوحتى روسى باداران يي وارخطا شوى اوهڅه كوى چي دكمونست رژيم دبقا اوپاښت لپاره له هرى وسيلى څخه كاروا خلى .
پدې لړكې دجګړې په لومړيو شيبو كي نجيب دپلورل شوى رژيم له هوايى قواو سره وكتل اوهغوى يي دې ته تشويق كړل چي له پخوا زياته بمبارى وكړى اوكومى سيمى چي دروسى تاړاكګرو له منګولو نه په امن پاته دي ويجاړاوله خاورى سره خاورى كړى .


٤ مخ


دجهادهنداري جريده دخوست دجهادي خبرونو دژرترژره خپرولو په منظورپه موقتي توګه په اونى كي دوه ځله خپريږي .
ګران لوستونكي دي خبروي

دخوست له رواني جګړې نه دجهاد هنداری دلیږل شو وخبریالانو راپورتاژ


۳مخ


## هغه پوځيان چى وسله پرځمكه كيږدي اوجګړې په حالت كى ونه نيول شي هغوى ټولو ته عفوه ده اومجاهدين به ددوى دسراومال دفاع كوي

الحاج حقاني

# دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش


# دجنوب لویدیزې حوزې په سلو کې ۸۵ قوماندانان دقوماندانانو د سرتاسري شوراڅخه ملاتړکوي اوورسره یو ځای شویدي

دبی ، بی ،سی راډیو په پښتو خپرونی کی دفراه ولایت دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان له قوماندان حاجی عبدالخالق سره یوه مرکه کړی چی دادی موږیی متن دگرانو لوستونکو دخبر تیا لپاره خپروو

اداره

پوښتنه : - پیښور ته دافغانستان دجنوب لویدیزی حوزی دقوماندانانو دسرتاسری شورا دهیأت دتللو مقصد څه ؤ ؟

ځواب :- دجنوب لویدیزی حوزی دقوماندانانو دسرتاسری شورا دکمیسیون برخه والو راتگ پیښور ته پدی مقصد ؤ چی دلته دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا دکمیسیون له وروڼو سره وگوری ، دافکارو تبادله وکړی او هغه کارونه له نږدی څخه وگوری کوم چی دقوماندانانو سرتاسری شورا تراوسه عملی کړی دی ، دهغوی له تجاربو څخه استفاده وکړی اودافغانستان دجهادی قوماندانانو له سرتاسری شورا سره دجنوب لویدیزی حوزی دقوماندانانو دشورا پوره ملاتړ اوهمکاری اعلان کړی

پوښتنه :- پدی کمیسیون کی څو قوماندانانو گډون درلود .

ځواب :- پدی کمیسیون کی موږ څلوېښت تنه دجنوب لویدیزی حوزی دقوماندانانو دشورا غړی برخه لرو .

پوښتنه :- تاسی ویلای شی چی دجنوب لویدیزی حوزی څخه تراوسه په مجموعی توگه څوتنه قوماندانان دقوماندانانو دسرتاسری شوراسره یوځای شوی دی ؟

ځواب :- دجنوب لویدیزی حوزی په سلو کی ۸۵ قوماندانان ددی شورا ملاتړکوی اوورسره یو ځای شوی دی ، یو شمیر قوماندانان ددی شورا څخه لیری پاتی شوی دی ، دهغی معنی دانده چی ددی شورا سره مخالفت لری ، دځینو مشکلاتو په اساس له هغوی سره نندی کتل شوی اودسرتاسری شورا کمیسیون پریکړه کړی چی یو هیأت وټاکی ترڅو له هغو قوماندانانو سره چی یا په داخل کی دی اویا دلته ، له هغوی سره وگوری اوهغوی دی شوراته رادعوت کړی .

پوښتنه :- ځینو قوماندانانو دراډیو له لاری ددی شورا سره مخالفت کړی ، پدی هکله څه وایی ؟

ځواب :- لدی نه باید موږسترگی پټی نه کړو چی یو شمیر قوماندانانو چی شمیر یی ۱۵ یاشلو تنو ته رسی په جنوب لویدیزه حوزه کی لدی شوراسره مخالفت وکړ خوموږ نه غواړو چی له هغووروڼو سره دمخالفت غبراوچت کړو ، موږ دی ته حاضریو چی له هغوی سره یوه تفاهم ته ورسیږو ، ځکه هغوی ته څه اشتباهات پیداشوی چی قوماندانان اتم تنظیم جوړوی ، پداسی حال کی چی موږ هیڅ کله دتنظیم دجوړلو ادعانده کړی ، ځکه خلك دتنظیم جوړولو څخه کرکه لری ، موږ غواړو چی دافغانستان دجهادی قوماندانانو مجاهدینو په مینځ کی یو عمومی اوسرتاسری اتحاداواتفاق راولو ، موږدی ته حاضر یو چی له هغو وروڼو سره تفاهم ته ورسیږو اوتصمیم لرو چی دیوه هیأت په ذریعه له هغوی سره خبری وکړو.

---

## په تیر پسې :

، دلړځنډ وروسته دکلی له کوروڼو څخه پردوی ډزی پیل شوی خوداډزی زیاتی مؤثری ثابتی نه شوی ، سلیمانوف گاجی مراد دخپل « کلاکوف » پنځه ججوری خالی کړی وی چی په دی وخت کی دمور نصیحت سترگو ته ودریده هغه وایی:

« چی دموردی نصیحت اوخبری می په غوږونو کی کړنگاوکړه پرمسلمانانو ډزی ونکړی ماسخته جټکه وخوړه تردی وروسته پاتی دوه ججوری دهوا خواته خالی کړی »

ترلسو بجوپوری پربی وزلو خلکو گولی وچلیدی ، ددرنلو توپونو دډزو له امله کلی دخاورو سره خاوری شو ، په دریو ساعتو کی (۱٤۰) تنه په شهادت ورسول شول ، په دوی کی سړي هم ؤ ، ښځی هم زاړه هم ؤ ، ماشومان هم ، دکلی دخلکو دډزو له امله یواځی یو پوځی ټپی شوی و ، لس بجی ټانکونو اوپوځی موټرو دکلی څخه بیرته دمرکز پرلورحرکت وکړ ، سلیمانوف

---

# موږ په افغانستان کي څه ولیدل؟

## په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

**دمسلم ژباړه**

اودهغه ملگری هم موټرو کی سپاره شول اودمرکز خواته روان شول دبی وزلو مظلومانو بی گوره اوکفنه جسدونو لیدلو دسلیمانوف ضمیر راویښ کړ د(۱۹۸۲) کال دمارچ په میاشت کی سلیمانوف یوی بلی حملی کی هم برخه واخسته ، په دی حملی کی دهغوی اوه ملگری ټپیان شول خودی روغ رمټ پاتی شو ، تردی وروسته ده د(۱۹۸۲) کال داپریل په میاشت کی دمجاهدینو پرخلاف یوی حملی کی برخه واخیسته ، دوی یو کلی محاصره کړیه کلی کې دتوپونو ددرنډو ډزو له امله څلویښت تنه شهیدان شول ، دمجاهدینو دډزو له امله هم څلورپوځیان ووژل شول خو سلیمانوف داځل هم روغ ، رمټ پاتې شو هغه دخپل ضمیر پرخلاف جبری جنگ څخه تنگ شوی ؤ خوده ته دتیښتي کومه موقع په لاس ورنغله خو بالاخره قسمت ده سره یاری وکړه اودی دروسانو دپوځی مرکز څخه په وتلو مجبورشو اووتښتید.

داد(۱۹۸۲) کال دجون میاشتی د(۲۱) نیټې پیښه ده افغانستان ته دسلیمانوف دراتگ اووه میاشتی پوره شوی وې ، ده غوښتل دجنگ سره خپلی اړیکی پری کړي اودخپل ضمیر پرخلاف دجنگیدلو پرځای یې دمجاهدینو سره یو ځای کیدو ته ترجیح ورکوله په دې خاطر یې خپل یو ملگری سرگی هم دخپلې لارې ملگری کړ ، دجون په ۲۱ دواړو دراکټ لانچروگولی پټی کړې بازار کې یې پر افغانانو خرڅې کړې پتلون اونورسامان یې واخیست اوبیرته راغلل تردې دمخه دوی داکار څوځلی کړی ؤ ، خوداځل دهغوی صاحب منصب ددوی

هغه دخپل ضمیر په خلاف جبري جنگ څخه تنگ شوي ؤ خوده ته دتیښتي کومه موقع په لاس ورنغله ، بالاخره قسمت دده سره یاري وکړه اودي دروسانو دپوځي مرکز څخه په وتلومجبورشو اووتښتید

په دی کارخبرشو ، هغه سلیمانوف اودهغه ملگری دفترته راوغوښتل پوښتنې یې ترې وکړې اودوی یې په څلورونورو پوځیانو ښه ووهل ، تردې وروسته یې دوی دکمپ یوې کوټې کې بند کړل ، ماښام چې کله دوی ته دډوډۍ خوړلو په خاطر دروازه خلاصه شوه دوی دواړه دکوټې څخه ووتل اوراساًخپل کاغوش ته

په څلورم مخ

---

## جهاد!

### دشرف ، عزت اوازادی یوازینی‌لار

**محمد زبیر «شفیقی»**

دخلیج له جگړی نه وروسته دافغانستان دربړی په رابطه یو لړنوی تحرکات اوفعالیتونه ترسترگو کیږی ، طبیعی ده چی دخلیج دتودی جگړی دختمیدو نه وروسته به دافغانستان مسئله بیرته دنړیوالو تودو قضیو ترتولو توده اومهمه قضیه جوړیده اوخپل همغه پخوانی اهمیت اوارځښت به یی لاسته راوړ ، که څه هم ځنی تبصری داسی هم دی چی نور سترځواکونه روس اوامریکا تفاهم ته رسیدلی - سړه جگړه ددوی ترمنځ ختمه شوی اونور روس دامریکا په مقابل کی دکوم اقدام وس اوتوان نلری ، نو ځکه دافغانستان قضیه هم نوره پخپله دسړیدو حالت ته درومی او دنړیوالو له اذهانو به لویږی .

خودی ټکی ته باید پام وکړو چی دافغانستان قضیه دسترو ځواکونو ترمنځ کومه قضیه نه ده چی هغوی وغواړی توده یی کړی او یایی بیرته دتاریخ پاڼو ته دیوی هیری قضیی په شان لاینحله وسپارلی شی ، ځکه دافغانستان دکشالی یو لوری خومنو چی روسان وو اودی چی زموږ په هیواد کی یی ناروا مداخله اوبیا نیغ یرغل کړی اولااوس هم دکابل دناولی رژیم ترشا ولاړ دی اودغی دردناکی تراژیدی ډرامی ته دوام ورکوی خوبل پلوته امریکا یاکوم بل سترمادی ځواك نه،بلکی زموږ مسلمان اومجاهد ملت دی چی په خپلو وینو اوقربانیو دوطن له تندی نه داسارت اوذلت دداغ په مینځلو لگیا دی ، هغه ملت چی دخپلی عقیدی ، شرف ، ناموس اوازادی په لاره کی یی تر ۱٦ لکو. تنو زیات شهیدان ورکړی ددغی تودی قضیی ترټولو ټاکونکی دروند اومؤثر طرف دی ترکومه پوری چی ملت دخپلی خوښی نظام اوقیادت نه وی جوړکړی ترهغه وخته‌به دغه توده معرکه همدغسی گرمه اوتوده وی .

البته دسترو ځواکونو بی میلی اویا دغه قضیه ددوی په اصطلاح له اهمیته غورځول هم زموږ دروان برمیال پاڅون اوجهاد پرضد دیوی بی شرمانه اونامردانه دسیسی یوه نوی کړی‌ده ، اوداد هغو هڅو اوپروپاگندونو برخه ده چی نړیوال استکبار یی زموږ پرهیواد دراتلونکی اسلامی نظام دجوړیدو دمخنیوی لپاره په لاراچوی ، په هرصورت که روس اوامریکا غواړی اوکه نه خو دافغانستان قضیه به توده وی ، دلته به ترهغو پوری دتکبیر دملکوتی نعرو په بدرگه دکفر او الحاد پرځالو تاړاکونه روان وی ترڅو زموږ ملت دخپلی خوښی سره سم اسلامی خپلواك اودخپل هیواد دمنافعو اومصالحو حامی حکومت اونظام جوړکړی .

البته داهم باید له نظره ونه غورځوو چی دنړیوال استکبار سازشونه اودسیسی بی اثره نه دی اویا داچی هغو ته باید هیڅ اعتنا ونه شی ، داپه خپل ځای ښکاره حقیقت دی چی که زموږ ملت ، مجاهد ځواکونه او قیادت دنړیوالو دسیسو پرخلاف ویښ اوهوښیار نه وی ، زموږ دهیواد سالمیت ، خپلواکی اود۱٦ لکو شهیدانو بی دریغه قربانی‌دنابودی‌له جدی گواښ سره مخامخ دی .

نه یوازی داچی استکبار ته باید دنور پرمختگ چانس ورنکړای شی بلکی روان وضعیت اوحالت هم زموږ دملت اوجهاد په گټه نه دی اوکه زرترزره جدی

په دریم مخ

# دخوست له رواني جګړې نه دجهاد هنداري دليږل شوو خبريالانو راپورتاژ

دوهمه برخه :

ترتیب کوونکی : محمد یعقوب — عکاسي : احمد سینا «احمدي»

په تير پسې :

دپوستی سره جوخت دمجاهدینو دوه ټانکونه ولاړوو چی په یوه ټانك کی دحضرت عمر(رض) دغونډ قوماندان حاجی ابراهیم اودزرهدارو دغونډ قوماندان حاجی خلیل الرحمن ناست وو اومجاهدینو ته یی قومانده ورکوله اوپه خپله یی هم په کمونستانو ډزی کولی ، توده جګړه روانه وه

دفارم باغ په منطقه دکمونستاتو له خوا سخت بمبارد کیده اودسکلډ توغندی یی هم راویشتل ، دغو بی دینو هغه کورونه هم بمبارد کړل چی دادوولس کاله ددوی په خدمت کی وو ، په دغه اساس ولسی خلکو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه ورسیدل ، زړورو مجاهدینو دسه شنبی په ورځ دحوت په ۲۸ مه نیټه دکمونستی حکومت دمیرخانسکی دوه قرارګاوی ، مالیزیو پوسته ، فارم باغ عمومی قرارګاه اوښی ټاپو پوسته ، دوه سري پوسته ، خوشحال للمی ټاپو پوسته ، ځدران کلی پوسته ، بیسودی پوسته ، زوړهوایی ډګر ته نږدی دچیلان قرارګاه لس پوستی

، دزیړوکی کلا چی دټانك په قرارګاه مشهوره ده دیوه ټانك په شمول فتحه کړی دمابنام دنږدی کیدلو له امله موږدجګړی داول خط څخه د قرارګاه په لور راستانه شوُدروږه ماتی اوشپی تیرولو دپاره دبړی مرکز ته راغلو دچهارشنبی په ورځ دحوت په ۲۹ مه نیټه مو سهاربیا ددروازه ګی په لور حرکت وکړ ، یوه ساعت وروسته دغی قرارګاه ته چی دفارم باغ سره نږدی موقعیت

لری ، ورسیدلو ، ددروازه ګی په قرارګاه کی ددمی جوړولووروسته دترصد غونډۍ ته چی دفارم باغ سره نږدی موقعیت لری ، وختلو دترصد په غونډۍ کی مولوی صاحب نظام الدین حقانی دڅو تنو مجاهدینو سره ناست ؤ اوپه جګړه کی بوخت ټولو قوماندانانو سره یی دبی سیم مخابری په وسیله ارتباط درلود دروغبړ څخه وروسته یی دمجاهدینو له خوا دفتحه شوو ځایونو

نومونه داسی راوښودل :

دکهی کندی دری پوستی چی دګلم جم په نوم ملیشیان په کی وو ، دمولوی صاحب حنیف شاه مجاهدینو له خوانیول شوی وی .

دکهی کندی سره نږدی څلور پوستی چی عبارت دی له : خوړپوسته ، وزیرو پوسته سره کلی پوسته اوسپین کلی پوسته ، دغه پوستی دخوست په جنوب غرب کی واقع دی .

دخوست شمال شرق خواته دکوکرك اووه پوستی دخړډنډ مجاهدینو له خوا فتحی شوی چی عبارت دی له : سپرکی پوسته ، ماماني سر ګروټی پوسته ، خونی کنډو دوه پوستی ، قرغدی پوسته اومیدانی پوستی څخه .

په دغه ورځ مجاهدینو دجنډۍ کلی پوسته فتحه اودمیرمنډۍ په سیمه کی یی ددښمن یو ټانك دمینځه یووړ.

دمعلوماتو اخستلو وروسته دترصد غونډۍ څخه راکښته شوواودابوجندل دغونډ قرارګاه ته راغلو ، په دغه قرارګاه کی مو شپه تیره کړه دپنجشنبی په ورځ دحمل په دوهمه نیټه مو دسهار په وخت دابو جندل دغونډ زړوراونومیالی قوماندان حاجی نیك محمد سره

ددروازه ګی دسیمی څخه دفارم باغ لوری ته حرکت وکړ ، لږڅه وروسته دپښن قرارګاه ته چی دفارم باغ ختیځ خواته موقعیت لری ، ورسیدو هلته مو دوحشی دښمن څخه یو ولجه شوی زرهپوش او دهغو مړیو جسدونه ولیدل چی دکمونستی باطلی عقیدی دپاره یی خپل ځانونه هلاك کړی وو ددغی قرارګاه دزیارت په نوم پوسته چی دیوی کوټی اوڅو مورچو په شکل اباده شوی وه ، بالکل دوحشت یوه نمونه وه ، دغه پوسته دومره چټله اوناپاکه وه چی په اوسنیو شرایطو کی حیواناتو هم په کی شپی نه شوی تیرولای خودغو بی دینو غلامانو چی دخپلو عملونو په سزا رسیدلی وو دکمونستی رټلی شوی عقیدی دبقا اوپایښت دپاره پکی ورځی اوشپی تیرولی دحق اوباطل ترمنځ توده جګړه روانه وه .

نوربیا

## جهاد!

### دشرف ، عزت اوازادی یوازینی لار ...

اواغیزمن ګامونه اوچت نه شی ملت به خدای (ج) مه کړه دیوی نه جبرانیدونکی مایوسی ښکارشی .

زموږ په نظر خوتراوسه پوری چی دملت دګټو بشپړ ضمانت او دکفر اوطاغوت دنقشو اودسیسو دناکامی پیغامونه ورکولی شی یوازی اویوازی دشهیدانو په وینو سروسنګرونو تاوده ساتل اودجهاد دځپوتوندیدل دی اوبس .

په تجربه سره ثابته شوی ده چی کله دجهاد مورچلونه تاوده شوی دی دبدمرغه اختلاف مایوسوونکی ماحول ختم شویدی ، دمجاهدینو ترمنځ دورورۍ اویو والی فضاً جوړه شوی ، زړه بدی،ګیلی اوګرمانی له منځه تللی اوپه ډاګه ویلای شو چی اصلاً داختلاف جرړی دهجرت دساړه اوبی تفاوته محیط زیږنده ده چی په مورچلونو اوبیا خصوصاً دجهاد په تودو مورچلونو کی یی هیڅ نښه نشته اوکه چیرته وی هم هغه دومره دوامداری اوخطر ناکی نه وی چی زموږ دجهاد لیکو ته زیان ورسولی شی .

دانه وایو چی دسیاست له ډګر نه باید بلکل پښنی سپکی کړو خو داضروری بولو چی زموږ دسیاست محور باید جهادی فعالیتونو دګړندی کیدلو او توندیدلو لپاره وی اولکه چی دخوست اوهیواد دنورو برخو وروستیو جګړو وښودله یوازی او یوازی دتکبیرونو په بدرګه دلویک شپیلی نه وتی ګولی زموږ دمسلمان ملت دلکونو تنو قربانیو اووینو حاصل دساتنی ضمانت کولای شی اویوازی پروسله وال جهاد تکیه اوزور زموږ په هیواد کی دیوه اسلامی او خپلواك حکومت دجوړیدو منطقی اومعقوله لاره ګڼلی شی ، دانن چی زموږدمجاهد ملت دجهاد تکبیرونو یو ځل بیا دالحاد اوفساد پرمانیو زلزلی ګډی کړی دی باید ټول جهادی ځواکونه دشرف ، عزت اوعظمت پرهمدغه ویاړلی لاره په یوه زړه اویوه اواز ګامونه اوچت کړی که خدای (ج) کول ډیر زرده چی وروستی فتحه یی قدمونه ښکل کړی اوپه ګران افغانستان کی داسلام اوازادۍ برمیال توغ په رپا شی.

والسلام

# په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعاليتونه

په تير پسې — پنځمه برخه

## داکسا ، کام ، خاد ، واد - تشکيلات ، فعاليتونه اوجنايات

عبدالوکیل

دظاهرپه تهولواکۍ کې خلقیانو اوپرچمیانو دي کارته دوام ورکړ خودمحمد داؤد له کودتا څخه وروسته دواړو ډلو ته دستوروړکړل شو چې په اردو اوځارندوی کې دجلب اودجذب فعالیتونو ته په خوراشدت اوګړندیتوب سره دوام ورکړي اونور نو « کی ، جی ، بی » په افغانستان کې دخپل تسلط اصلي لاره په اردو کې دخلق اوپرچم دډلو نفوذ اوکودتا وټاکله .

دپرچم اوخلق ډلو دد اوُد خپل سري رژیم په ټوله دوره کې نیمه علني فعالیت درلود لاکن دظاهردټولواکۍ په دوره کې یې په ملکي ساحه کې بشپړ علني فعالیت کاوه .

لکه څرنګه چې پورته هم ذکرشول « کی ، جی ، بی » دخلق اوپرچم ډلو ټول غړي په مستقیم ډول سره

داجنټانو په ډول نه ؤ استخدام کړي بلکې له مهمو اشخاصو خصوصاً درهبری اکثریت غړو اویوشمیر افسرانو سره یې مستقیمې اړیکې درلودې.داچې دپرچم اوخلق ډلو غړیتوب دیو شمیر ځوانانو دقبول وړوګرځید علت یې دهغه وخت خاص شرایط اووضعه وه نودغو ډلو ته دیو شمیر ځوانانو دورتللوعوامل زیات دی خومهمو ته یی په لاندې ډول سره اشاره کیږي :

۱ :- په هیوادکې دیني زده کړې ته ددولت لخوا لازمه پاملرنه نه کیدل :

په عمومي ډول سره دنوي نسل لپاره ددیني زده کړې پروسه خورا کمزوري وه .

دیوې خوا دافغانستان په اکثریت کلیو اوبانډوکې هغودیني علما ؤ امامت اوپه عین حال کې ددیني تدریس

چارې په غاړه درلودې چې پخپله یې په دې باره کې لازمه تجربه نه درلوده اودبله طرفه دلیسو ددیني مضامینو لپاره داسې استاذان (داستثنا په ساتلوسره )استخدام کیدل چې دپوهې سطحه به یې ټیټه ، دما دیاتو ( پیسو) تاثیرات پرې زیات اوسخت محافظه کاران ؤ ، دهغو زده کوونکو په مقابل کې کومو چې دماتریالیستي نظریې څخه دفاع کوله بې تفاوته اوکه احیاناً دهغوی په ردکې به یې کومې خبرې وکړې هغومره به غیرموثرې وې چې نه ویل به یې بهترؤ . په دیني مضامینو کې اصلاًناکامی وجود نه درلود ځکه خو زده کوونکي ددې لارې څخه دهغوی زده کړې ته نه هڅول کیدل . په مکتبونو اولیلیو کې ملا

امام وجود نه درلود اوپوهنتونونه خواصلاً ددینی مضامینو دتدریس له عمومیت څخه بې برخې ؤ دپوهنتونونو ساحې داسې زهرجنې فضاً اشغال کړې وې چې دین ته پاملرنه دعقب ماندګی ، اطرافیت اونادانی په مشابه تعبیریدل اومحمد ظاهر په دې پوهیده چې که چیرې داسلام دین هغو علماؤ ته موقع په لاس ورکړي کوم چې پوه اوربنتیني دیني علما دي نو هغوی داقدرت په ځان کې لري چې دنوي نسل دعقیدې اوفعالیت لوری دبې دینی اوبالاخره دمحمد ظاهر دسیاسي ،اقتصادي اوکلتوري تګ لارې څخه داسلام اووطن دهراړخیزې پرمختیا اوترقۍ لارې ته راوګرځوي

نوربیا

## دمجاهدینو بریالی عملیات اود مزدور رژیم مذبوحانه ...

همدغه راز دفاع وزیر اسلم وطنجارخپلو قواو ته په خطاب کي وویل چي دمجاهدینو او دسیمي نورو مسلمانانو په مقابل کي سخت دریغ غوره کړی اوپه ټول توان اوقدرت سره له مجاهدینو سره وجنګیږي .

خارجه وزیر عبدالوکیل دنده اخیستی چي دملګرو ملتونو دسازمان عمومي منشي په نامه لیکونه واستوی اوغواړی پدي توګه په خپلو شرمیدلو کړو وړو پرده واچوی اودنړیوالو په سترګو کي خاوری وپاشی کله هم په کابل کي دپاکستان دسفارت استازی دبهرنیو چارو وزارت ته رابولی اوداحتجاج په توګه لیکونه ورسپاری چي ګنی دمجاهدینو په لیکو کي پاکستاني پوځونه شامل دي اوله هغوی سره په جګړه کي مرسته کوی کله بیا پدي تورن شی چي ګواکی الوتکی یې له حریم څخه تجاوز کړی اودافغانستان خاوری ته ورننوتی اودوی لوموړی الوتکی درادار په واسطه لیدلی دي .

برسیره پردي روسی باداران یې هم په کراره ندي ناست اوپه همدا ور اوتویو تو یې لاس پوری کړی اوویلی یې دي چي دسیمی امنیت په خطر کي لویدلی .

په همدې توګه دکابل رژیم اوس په اصطلاح دقوم مشرانو ، سپین ږیرو اومخورو ته پام شو ، زاری اوننواتی یې پیل کړی دي اوهڅه کوی چي لدي لاری دخپلی حتمی ماتی مخنیوی وکړی .

خودخوست وروستیو عملیاتو ثابته کړه چي حتی په کابل رژیم پوری مربوطی قواوی هم ددوی ملاتړ اوپلوی نکوی ، په جوپو جوپو صاحب منصبان اوعسکر له جګړی څخه لاس اخلی اوله خپلو وسلو اوامکاناتو سره مجاهدینو ته تسلیمیږی ، تولی ستراتیژیکی سیمی اوپوستی یو په بل پسی دمجاهدینو په لاس فتحه کیږی ، ځمکنی اوهوایی لاری یې پری بندی کړی دي .

لدي نه علاوه بې ځایه تورونه اودرواغو پروپاګندی یې نړیوالو ته روښانه کیږی دمثال په توګه دپاکستان دالوتکو دتجاوز تورخوبي لا په هماغه ورځو کي دنړیوالو راډیو ګانو له خوا دروغ او بې ځایه وګڼل شو ځکه چي درادار دستګاه چي دوی ګویا په کي الوتکی لیدلی ، لاپخوا دمجاهدینو دحملو په ترڅ کي ویجاړه اوله منځه تللی وه ، دپاکستان دپوځ دمداخلت تورونه یې چي ګنی له مجاهدینو سره یو ځای درژیم په مقابل کي په سنګرونو کي جنګیږی ، په نړیواله سطحه بې اغیزی اورسوا شوی لکه چي الحاج مولوی جلال الدین حقانی په خپل یوه بیان کي څرګنده کړه چي دکابل رژیم ددي ادعا ددرلودلو لپاره ملګری ملتونه کولی شی خپل هیئات چي دکابل رژیم اودروسانو استازی هم پکي شامل وی دمجاهدینو له سنګرونو څخه لیدنه وکړی ترڅو داخبره هغوی ته هم برښنده شی چي له مجاهدینو سره دپاکستان پوځ نه ، بلکی پخپلو مټو په هماغو وسلو چي دروسانو څخه یې په غنیمت نیولی دي ، دروسانو دمزدور اوکمونست رژیم په مقابل کي جنګیږي .

له پورتنیو ویناوو څخه څرګندیږی چي دکابل ګوډاګی رژیم لکه په اوبو ډوب شوی دځان دژغورنی لپاره هری خواته اوهرخس اوخاشاک ته لاس اچوی ، خوددوی پخوانی اعمال دومره کرکجن اونه منونکی دی چي په ښکاره به یې داسلام له مقدس دین سره دښمنی کوله اودمسلمانو خلکو مقدساتو اوعباداتو ته یې سپکاوی کاوه نواوس به کوم مشر ، سپین ږیری اومخور دي ته حاضر شی چي ددوی ننواتو اوزاریو ته غوږکیږدی .

دوی هماغه پلورل شوی کسان دي چي دکودتا په لومړیو ورځو کي یې دخپلو روسی بادارانو له امر سره سم په ډاګه ویلی وُ چي داسلام دین زموږ دپرمختګ په لار کي خنډونه اچوی ، نوپکار ده چي دافغانستان په ګوټ ګوټ کي داسلامی فکر اوعقیدی خاوندان له تیغه تیرشی اوله دي مصیبت !!! څخه ځانونه خلا ص کړو هغوی به ویل چي پدې خاوره کي بواځی هغه څوك دژوند کولو حق لری چي کمونستی باطله عقیده منلی شی ، داځکه چي که یو مسلمان هم ژوندی پاته شی نوموږ خپل هدف ته درسیدو په لاره کي له ستونزو سره مخامخ شو اوداهم دلمر په شان څرګنده ده چي دمزدور رژیم اوسنی تبلیغاتی نرمښ اودقوم مشرانو ته ننواتی اوزاری دافغانستان دمتدینو خلکو دسربندو اومقاومت نتیجه ده .

له بلی خوا داهم ثابته خبره ده چي دکابل ګوډاګی رژیم اوس دمجاهدینو دمقاومت توان ببخی له لاسه ورکړی اودزوال اوماتی پړاو یې شیبه په شیبه نږدی کیږی ، او زموږ دوحدت اویووالی سره یو ځای به یې دقدرت تغر ټول شی نوپه کار دی چي جهادی مشران په ریښتینی اتحاد اواتفاق سره دوروروولی په فضا کي دافغانستان دریږدلو خلکو وروستی هیله چي دکمونست رژیم راپرزول اوپرځای یې دمجاهدینو په لاس یو اسلامی حکومت جوړول دي ، پوره کړی . ومن الله التوفیق

## کنترول مطلق حزب کمونست براردو سیستم امنیت وقضایي پایان یابد

یلتسین

بوریس یلتسین خواستار تغیرات اساسي وساختمان قدرت دولتي روس گردید .

وي طي بیانیه به کانگرس روس ضمن انتقاد برگرباچوف خواستار مفاهمه میان احزاب سیاسي گردید ، که تشکیل یك حکومت ائتلافي رادرشرایط دموکراسي تحت بحث وبررسي گیرند

یلتسین گفت : جهت رسیدن به قدرت استفاده ازقوه باید رد گردد موصوف همچنان خواستار پایان یافتن کنترول مطلق حزب کمونست براردو سیستم امنیت وقضایي کشور گردید.

یلتسین دوره شش ساله حکومت گرباچوف رادوره اصلاحات نه بلکه دوره سرکوبي خواند

این بیانیه موصوف درکانگرس که رئیس جمهور به اراي مستقیم مردم انتخاب گردموجب بحث وجدل شدید درپارلمان روس واقع گردید.

## تلاش بخاطر تدویر کنفرانس صلح اعراب واسرائیل

دروا‌شنگتن تائید شده است که فعالیت بخاطر گردهم اوردن اعراب واسرائیل دریك کنفرانس صلح درشرقمیانه بحث جریان دارد .

طبق یك خبر رادیو بي، بي ،سي مامورین درقصرسفید ووزارت خارجه امریکا گفته اند که تدویر کنفرانس صلح یکي ازراههاي مختلف است که برانها بحث جریان دارد ، اما منابع ازدادن معلومات پیرامون سایر تلاش ها وراها خود داري ورزیدند .

# اعلان کانکور

پوهنتون دعوت وجهاد براي سال جدید تعلیمی ( ۱۳۷۰ ۱۳۷۱ هجری شمسی ) مطابق به ( ۱٤۱۱ - ۱٤۱۲ هجری قمری ) به پوهنځی های شرعیات ، اصول الدین ، طب ، انجنیری و تعلیم و تربیه شاګرد میپذیرد .

**تاریخ امتحان کانکور** براي پوهنځي هاي شرعیات و اصول الدین روز **یکشنبه (۲۰) اسد** ۱۳۷۰ هجری شمسی

و براي پوهنځي هاي طب ، انجنیري و تعلیم و تربیه روز **پنجشنبه ۲۰ سرطان** ۱۳۷۰ هجري شمسی .

تاریخ ثبت نام براي امتحان کانکور پوهنځي هاي شرعیات و اصول الدین از ۱۵ حمل - ۱۵ اسد

و براي پوهنځي های طب ، انجنیري و تعلیم و تربیه از ۱۵ حمل - ۱۵ سرطان .

## شروط قبول :

۱- داشتن سند فراغت ازمکاتب و مدارس ثانوي مهاجرین ویامعادل آن

۲- احضار ورقه ترکیه از تنظیم هاي جهادي مربوطه

۳- چهارقطعه عکس تازه

**سوالات امتحان کانکور** براي پوهنځي هاي شرعیات واصول الدین از مضامین تفسیر ، حدیث ، فقه ، اصول فقه ، عقیده و لغت عربی .

وبراي پوهنځي هاي طب ، انجنیري و تعلیم و تربیه از مضامین ثقافت اسلامی ، اجتماعیات ، دري ، پښتو، فزیك، ریاضی ، کیمیا و بیولوژي انتخاب می گردد .

## یاد داشت :

۱- امتحان معادله ( خصوصی ) براي پوهنځي هاي شرعیات و اصول الدین سر از تاریخ ۵ **اسد** آغاز می گردد .

۲- شاگردانیکه سال گذشته به پوهنځي های شرعیات ، اصول الدین ، طب و تعلیم و تربیه قبول ولی به دروس خویش حاضر نگردیده اند ، هرگاه تا **اول سنبله** (۱۳۷۰) به پوهنتون حاضر نشوند حق شمولیت شان سلب میگردد و به عوض آنها برادران دیگر از طریق امتحان کانکور امسال پذیرفته خواهند شد .

آدرس : هجرت کلی ، چرات رود ، کمپ جلوزي ، پبی ،

**( معاونیت امور محصلین پوهنتون )**


دهیئت تحریر ترنظر لاندي

**مکاتباتي پته**

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي تاون پیښور

تیلفون : ... (٤۱۷٤٦)


## روس ته درژیم دملیشو دیوه قوماندان تیښته

دفاریاب په ولایت کي دمجاهدینو اودکابل دکمونست رژیم دقواو ترمنځ دسختي جګړي په نتیجه کي رژیم قواو ته زیات تاوان اوښتي اوهم ددولت دملیشو یو قوماندان دځوتنو سره دروسي خاوري ته تښتیدلي دي .

دمیډیا خبري اژانس ددغه مطلب دخبرولو په ترڅ کي زیاتوي رضاخان الکوزي چي څه موده مخکي دکابل رژیم ته تسلیم شوي وو رژیم ادعاوکړه چي نوموړي دجمعیت اسلامي افغانستان دتنظیم قوماندان اوڅلور زرو وسله والو کسانو سره رژیم ته تسلیم شویدي ، دااعلان دجمعیت اسلامي تنظیم له خوا په کلکه رد شوي و.

په خبر کي راغلي نوموړي سړي چي درژیم دجاسوس په توګه دمجاهدینو په منځ کي کارکاوه دقیصار په ولسوالي کي دیوه کلي مشر و چي دباتورو مجاهدینو دځپونکو حملو په وړاندي له څو تنو نورو ملیشو سره دروس خاوري ته وتښتید .

## په عراق کي نوی حکومت جوړیدل اعلان شول

بغداد - دحمل (۳)

دعراق جمهور رئیس صدام حسین، په عراق کي دنوی حکومت جوړول اعلان کړی دي . ددي اعلان له مخی دعراق (سعدون حمادی ) دعراق نوی صدراعظم په توګه «طه یاسین رمضان » دجمهور رئیس دمرستیال په توګه ، «احمد حسین کودیر »دبهرنیو چارو وزیر په توګه ، او دګرجنرال «سعدی عباس » ددفاع دوزیر په توګه اعلان شوی .

## دکرکوك ښار عراقي پوځونو دوباره ونیوه

نړیوالو خبري سرچینو رپوټ ورکړي چي عراقي پوځي مقاماتو اعلان کړي چي حکومتي پوځونو دعراق شمالي ښار کرکوك چي څو ورځي دمخه مخالفو پوځونو نیولي و بیرته آزاد کړیدي .

خوبیا هم مخالفینو دحکومت دادعوه نه ده منلي

له بلي خوا دجنوبي سیمو باغي شیعه ګروپونو خبرورکړي چي دوي دخونړي جنګ څخه وروسته دکربلا مقدس ښارنیولي دي .

## مجاهدین میدان هوايي کابل‌را به راکت بستند

مجاهدین باانداخت راکت هاي دوربرد میدان هوايي کابل رامورد ضربه شدید قرارداده خسارات مالي وجاني راوارد اوردند .

یك منبع شوراي سرتاسري قوماندانان به جریده جهاد هنداره گزارش داد که مجاهدین ازسمت شمال کاریز بتاریخ شش حمل ده مرمي سکربیست رابطرف میدان هوايي کابل انداخت نمود ند ، همچنان درگزارش امده است که ساعت سه بعد ازظهر هفتم حمل نیز مجاهدین باراکت هاي سکر میدان هوايي کابل تحت ضربه قراردادند .

درخبر علاوه شده است که ازتلفات وخسارات وارده این نوعملیات تاحال راپور نرسده است .

یك منبع جهادي درین رابطه به خبرنگار جهاد هنداره گفت که مجاهدین مستقر اطراف کابل میخواهند بخاطر تبارز تباني وحمایت ازعملیات خوست اهداف نظامي رژیم رادرشهر کابل مورد حملات خویش قراردهند .

## موږ په افغانستان کی ...

لاړل ، پوځی کالي یې واغوښتل وسله یې واخیسته اودمرکز څخه پټ ووتل په دي خاطر چي مرکز کي به عموماً ، دووتنو پهره کوله هغوی باندي هیڅ چا شك ونکړاودوی دمرکز له حدودو ووتل په لاره کي یې قل توپچی نومی کلی مخی ته راغی دوی هلته پاتې نشول دوه نورکلی یې هم مخی ته راغلل خودوی پکی دپاتی کیدو پرځای پرمخ لاړل اخردشپی په وروستیو کي کله چي دیوه کلی څخه تیریدل لوږې سخت بې تابه کړل دیوه کوردروازه یې وټکوله نږدې وُ چي دکورخلك هغوی وګوري اوکوم اضطراری اوعاجل اقدام وکړی دوی په ماته ګوډه فارسی ژبه هغوی ته وویل روسانو کلی محاصره کړی تاسو موږته ډوډۍ راکړی موږبیرته ځو اوبیرته چي ستانه شوروسانو ته وایو چي داکلی خالي دی ، دکوروالو دوی ته ډوډۍ ورکړه ، هغوی خیتې مړې کړې اوچوپ بیرته دهغه ځای څخه روان شول .نوربیا